**دافغانستان اسلامی جمهوریت**

**دعدلیی وزارت**

# رسمی جریده

## فوق العاده گڼه

- دملی اردو دافسرانو او بریدملانو د ذاتی چارو قانون
- د ملی اردو دافسرانو او بریدملانو دذاتی چارو دقانون په ځینو موادو کی حذف او تعدیل

- قانون امورذاتی افسران وبریدملان اردوی ملی
- حذف وتعدیل برخی از مواد قانون امور ذاتی افسران و بریدملان اردوی ملی

دچړیدو نیټه د ۱۳۸۹ هـ.ش کال د زمری دمیاشتی (۳۰) پرله پسی نمبر (۱۰۳۵)

تاریخ نشر: (۳۰) اسد سال ۱۳۸۹ هـ. ش نمبرمسلسل (۱۰۳۵)

**در این شماره :**

**۱- قانون امورذاتی افسران وبریدملان اردوی ملی از صفحه (۱-٦٦)**

**۲- حذف وتعدیل برخی از مواد قانون امورذاتی افسران وبریدملان اردوی ملی از صفحه (٦۷-٦۹)**

**د امتیاز خاوند : دعدلیی وزارت**

مسؤل چلوونکی : حیدر "محقق"

**۰۷۰۰۰۸۸۱۲۸**

ددفتر تیلفون : **۲۱۰۳۳۷۵**

مرستیال : نور علم **۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸**

مهتمم: محمدجان **۰۷۰۰۳۹۵۲۹۲**

ویب سایت : www.moj.gov.af

**قیمت این شماره :............................(٦۰) افغانی**

**تیراژ چاپ اول :..................................(۵۰۰۰)جلد**

**آدرس :وزارت عدلیه ، ریاست نشرات ، چهارراهی پشتونستان ، کابل**

**د افغانستان اسلامي جمهوري**

**رياست**

ګڼه: (۶۴۹۵)

نېټه: ۱۳۸۹/۴/۳۰

**دعدلیې وزير محترم ښاغلی**

**حبيب الله "غالب"**

د ملي اردو د افسرانو او بریدملانو د ذاتي چارو قانون چې د ملي شوري د ولسي جرګې د ۷/ ۴/ ۱۳۸۹ نېټې (۱۷۵) ګڼه مصوبې پر بنسټ د ټولو غړو په دوه ثلثه رايو سره په (۹) فصلونو او (۷۰) مادوکې تصويب او د افغانستان د اساسي قانون د څلور نوي يمې مادې له مخې توشيح شوی ګڼل کېږي.

بناءً نوموړی قانون د هغه له مصوبې سره يو ځای تاسو ته درواستول شو څو يې په رسمي جريده کې په خپرولو لاس پورې کړئ.

**حامد کرزی**

**د افغانستان اسلامي**

**جمهوريت رئيس**

**رياست جمهوری اسلامی**

**افغانستان**

شماره: (۶۴۹۵)

تاریخ: ۱۳۸۹/۴/۳۰

**محترم ښاغلی حبيب الله "غالب"**

**وزير عدليه**

قانون امور ذاتی افسران و بريدملان اردوی ملی که به اساس مصوبۀ شماره (۱۷۵) مؤرخ ۱۳۸۹/۴/۷ ولسی جرگه شورای ملی به دو ثلث آرای کل اعضاء به داخل (۹) فصل و (۷۰) ماده تصويب و به تأسی از حکم مادۀ نود و چهارم قانون اساسی افغانستان توشيح شده محسوب می گردد.

بناءً قانون مذکور همراه با مصوب آن به شما ارسال شد، تا به نشر آن درجريدۀ رسمی اقدام نمائيد.

**حامد کرزی**

**رئيس جمهوری اسلامی**

**افغانستان**

## ولسی جرګه

### مصوبه

### د ملی اردو د افسرانو او بریدملانو د ذاتي چارو قانون د ټولو غړو په دوه ثلثه رایو سره

پرله پسې ګڼه: (۱۷۵)

د تصویب نېټه: ۷/ ۴/ ۱۳۸۹

د افغانستان د اساسي قانون د څلور نوي یمې مادې له حکم سره سم، ولسي جرګې د ۱۳۸۹ کال د چنګاښ د اوومې نېټې د دوشنبې ورځې په عمومي غونډه کې د ملي اردو د افسرانو او بریدملانو د ذاتي چارو قانون په نهو فصلونو او اویا مادوکې د دویم ځل لپاره د ټولو غړو په دوه ثلثه رایو سره تصویب کړ.

ځارنوال عبدالستار "خواصي"
د ولسي جرګې منشي

## ولسی جرگه

### مصوبهٔ

### قانون امور ذاتی افسران و بریدملان اردوی ملی به دو ثلث آرای کل اعضاء

شماره مسلسل: (۱۷۵)

تاریخ تصویب: ۱۳۸۹/۴/۷

به تأسی از حکم مادهٔ نودوچهارم قانون اساسی افغانستان، ولسی جرگه در جلسهٔ عمومی روز دوشنبه مؤرخ هفتم ماه سرطان سال ۱۳۸۹ خویش قانون امور ذاتی افسران و بریدملان اردوی ملی را به داخل نه فصل و هفتاد ماده مجدداً به دو ثلث آرای کل اعضاء تصویب نمود.

ځارنوال عبدالستار "خواصی"
منشی ولسی جرگه

## فهرست مندرجات

## قانون امور ذاتی افسران و بریدملان اردوی ملی

## فصل اول

## احکام عمومی

مادۀ اول: هدف........................................۱
مادۀ دوم: اصطلاحات........................................۱
مادۀ سوم: شرایط تقررو استخدام........................................۲
مادۀ چهارم: تقرر افسران و برید ملان ........................................۳
مادۀ پنجم: ردیف ورتب افسران و بریدملان........................................۶
مادۀ ششم: موقف بریدملان........................................۷

## فصل دوم

## حقوق و وجایب

مادۀ هفتم: وجایب........................................۷
مادۀ هشتم: داشتن حقوق و وجایب مانند سایر اتباع........................................۹
مادۀ نهم: حقوق........................................۱۰
مادۀ دهم: معاش و سایر امتیازات ........................................۱۰
مادۀ یازدهم: معاش امتیازی........................................۱۱
مادۀ دوازدهم: حقوق جریان تعلیم یا تحصیل........................................۱۳
مادۀ سیزدهم: شمولیت در مو سسات تحصیلات عالی ........................................۱۳
مادۀ چهاردهم: محاسبۀ مدت تحصیل به قدم ترفیع و تقاعد........................................۱۴
مادۀ پانزدهم: معاش امتیازی ........................................۱۵
مادۀ شانزدهم: خدمات صحی رایگان........................................۱۵
مادۀ هفدهم: کرایه و سفریه ........................................۱۶
مادۀ هجدهم: معطل قرار گرفتن حقوق و امتییازات........................................۱۶

## فصل سوم

## موقف افسر و بریدمل


مادۀ نزدهم: موقف........................................۱۸

مادۀ بیستم: موقف اصلی........................................۱۹

مادۀ بیست ویکم: موقف خدمتی........................................۱۹

مادۀ بیست ودوم: موقف تحصیل........................................۱۹

مادۀ بیست وسوم: موقف احتیاط فعال........................................۲۰

مادۀ بیست چهارم: موقف احتیاط غیر فعال........................................۲۰

مادۀ بیست وپنجم: احتیاط در حالت اضطرار یا سفربری ........................................۲۱


## فصل چهارم

## ترفیع افسران و بریدملان


مادۀ بیست وششم: ترفیع........................................۲۱

مادۀ بیست وهفتم: حالات عدم اجرای ترفیع........................................۲۵

مادۀ بیست وهشتم: ترفیع فوق العاده........................................۲۶

مادۀ بیست ونهم: منظوری ترفیع........................................۲۷

مادۀ سی ام: عدم محاسبۀ مدت اسارت یا مفقودیت در قدم ترفیع و تقاعد........................................۲۸

مادۀ سی ویکم: تقدیر افسران و بریدملان........................................۲۸


## فصل پنجم

## تقرر و تبدیلی افسران و بریدملان


مادۀ سی ودوم: عدم تقرر........................................۲۹

مادۀ سی وسوم: عدم تقرر و استخدام در بست پائین تر........................................۲۹

مادۀ سی وچهارم: تقرر و تبدیلی........................................۳۰

مادۀ سی وپنجم: تبدیلی در بست بلند تر........................................۳۱

مادۀ سی وششم: شرایط تبدیلی........................................۳۱

مادۀ سی وهفتم: توظیف سرپرست........................................۳۲

## فصل ششم

## رخصتی افسران و بریدملان

مادهٔ سی وهشتم: رخصتی..........۳۳
مادهٔ سی ونهم: انتقال رخصتی تفریحی..........۳۵
مادهٔ چهلم: اعطای رخصتی..........۳۵

## فصل هفتم

## انفصال استعفأ و تقاعد افسران و بریدملا

مادهٔ چهل ویکم: انفصال..........۳۶
مادهٔ چهل ودوم: استعفأ..........۳۷
مادهٔ چهل وسوم: مطالبهٔ تقاعد..........۳۸
مادهٔ چهل وچهارم: حالات تقاعد..........۳۸
مادهٔ چهل وپنجم: رفع تقاعد..........۴۲
مادهٔ چهل وششم: عضو مشورتی شورای دفاع..........۴۳
مادهٔ چهل وهفتم: حقوق تقاعد..........۴۳
مادهٔ چهل وهشتم: عدم محاسبهٔ دورهٔ تحصیل در خدمت بالفعل..........۴۷
مادهٔ چهل ونهم: محاسبهٔ خدمت..........۴۸
مادهٔ پنجاهم: معتبر شمردن سن مندرج دفتر سوانح..........۴۸
مادهٔ پنجاه ویکم: تثبیت سن..........۴۹
مادهٔ پنجاه ودوم: افزودی حقوق تقاعد..........۵۰
مادهٔ پنجاه وسوم: قطع حقوق تقاعد..........۵۰
مادهٔ پنجاه وچهارم: مساعدت مالی حین تقاعد..........۵۱
مادهٔ پنجاه وپنجم: پرداخت حقوق تقاعد در صورت عدم خلع رتبه..........۵۲
مادهٔ پنجاه وششم: تأدیهٔ حقوق تقاعد از تاریخ انفصال..........۵۳
مادهٔ پنجاه وهفتم: قطع حقوق تقاعد در صورت رفع تقاعد..........۵۴
مادهٔ پنجاه وهشتم: پرداخت ح تقاعد در صورت شهادت و معلولیت..........۵۴
مادهٔ پنجاه ونهم: مساعدت مالی با معلولین و بازماندگان شهید..........۵۷
مادهٔ شصتم: حقوق تقاعد محصلین ، متعلمین و مداومین..........۶۰

فصل هشتم

خدمت در احتیاط

مادهٔ شصت ویکم: احتیاط مؤقت غیر فعال..........۶۱
مادهٔ شصت دوم: ختم دوره احتیاط مؤقت غیر فعال..........۶۱
مادهٔ شصت و سوم: حقوق و امتیازات دورهٔ احتیاط ..........۶۲
مادهٔ شصت و چهارم: احضار از دورهٔ احتیاط ..........۶۳
مادهٔ شصت و پنجم: قطع حقوق تقاعد در حالت جلب در دورهٔ احتیاط..........۶٤

فصل نهم

احکام متفرقه

مادهٔ شصت و ششم: سربازان داوطلب..........۶۴
مادهٔ شصت و هفتم: وضع طرزالعمل..........۶۵
مادهٔ شصت و هشتم : تخلفات انظباطی و دسپلینی..........۶۵
مادهٔ شصت ونهم : تطبیق قانون..........۶۵
مادهٔ هفتادم : انفاذ..........۶۶

بسم الله الرحمن الرحيم

## د ملي اردو د افسرانو او بريدملانو د ذاتي چارو قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**موخه**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د ملي اردو د افسرانو او بريدملانو دمقررېدو، استخدام، تبديلی، ترفيع، رخصتی، مکافاتو، تأديب، انفصال، استعفي، تقاعد، احتياط او د ملي اردو دنورو ذاتي چارو د تنظيم په منظور وضع شوی دی.

**اصطلاحګانې**

**دوه يمه ماده:**

په دې قانون کې لاندې اصطلاحګانې دغه معناوې افاده کوي:

۱- افسر: هغه شخص دی چې ددې قانون د حکمونو مطابق د دوه يم بريدمن په رتبه يا له هغه

## قانون امور ذاتی افسران و بريد ملان اردوی ملی

## فصل اول

## احکام عمومی

**هدف**

**مادۀ اول:**

اين قانون به منظور تنظيم امور مربوط به تقرر، استخدام، تبديلی، ترفيع، رخصتی، مکافات، تأديب، انفصال، استعفا، تقاعد، احتياط و ساير امور ذاتی افسران وبريدملان اردوی ملی وضع گرديده است.

**اصطلاحات**

**مادۀ دوم:**

اصطلاحات آتی در اين قانون مفاهيم ذيل را افاده می نمايد:

۱-افسر: شخصی است که به رتبۀ دوه يم بريدمن يا بالاتر از آن طبق احکام اين قانون در

څخه لوړ، د ملي اردو په لیکو کې مقررېږي.

۲- برید مل: هغه شخص دی چې ددې قانون د حکمونو مطابق د پرکمشر په رتبه او له هغه څخه لوړ، د ملي اردو په لیکو کې استخدامېږي.

۳- ترفیع: له موجوده رتبې څخه لوړې رتبې ته د افسرانو او بریدملانو د رتبې لوړیدل دي.

**د مقررېدو او استخدام شرایط**

**درېیمه ماده:**

(۱) هغه شخص د ملي اردو په لیکو کې د افسر یا بریدمل په توګه مقرر او استخدامېدی شي چې د لاندې شرایطو لرونکی وي:

۱- یوازې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د تابعیت لرل.

۲- له یوۀ کال څخه په زیات تنفیذي حبس، نه محکومیت.

۳- په مخدرو موادو باندې نه روږدوالی.

صفوف اردوی ملی مقرر می گردد.

۲-بریدمل: شخصی است که به رتبۀ پرکمشر و بالاتر از آن طبق احکام این قانون در صفوف اردوی ملی استخدام می گردد.

۳- ترفیع :ارتقای رتبۀ افسران و برید ملان از رتبۀ موجوده به رتبۀبالاتر می باشد.

**شرایط تقررواستخدام**

**مادۀ سوم:**

(۱)شخصی به صفت افسر یا بریدمل در صفوف اردوی ملی مقرر و استخدام شده می تواند که واجد شرایط ذیل باشد:

۱- داشتن تنهاتابعیت جمهوری اسلامی افغانستان .

۲-عدم محکومیت به حبس تنفیذی، بیش ازیکسال.

۳-عدم اعتیاد به مواد مخدر.

۴– د جسمي او روحي توان لرل.

(۲)د ملـــي اردو افــــسران او بریدملان، په اړتیا وړ بستونو کې ددې قانون په لومړۍ فقره کې پر درج شویو شرایطو برسېره د لاندې مراتبو په پام کې نیولو سره مقرر او استخدامېږي:

۱– د تحصیل درجه.

۲– د عملي او مسلکي کار تجربه.

۳– د اړتیا وړ بســـت کـــې اداري کفایت او وړتیا.

۴– د ترلاس لاندې افسرانو او بـــریدملانو د مســـلکي تجـــربې د پرمختیا او پراختیا وړتیا.

<u>د افسرانو او بریدملانو مقررېدل</u>

**څلورمه ماده:**

(۱) د هېواد له دننه یا بهر څخه د نظامي لوړو زده کړو د مؤسسو د لېسانس سند لرونکي فــارغان د دوه یم برېدمن په رتبه مقررېږي.

(۲) د هېواد له دننه یا بهر څخه د نظامـــــي تعلیمي مؤسسو د

۴–داشتن توانائی جسمی و روحی.

(۲)افسران وبریدملان اردوی ملی در بست های مورد ضرورت علاوه بر داشـــتن شـــرایط منـــدرج فقرۀ (۱) این ماده با رعایـــت مراتب آتی مقـــررو اســـتخدام می گردند:

۱–درجۀ تحصیل.

۲–تجربۀ کار عملی ومسلکی.

۳–کفایت اداری و توانمندی در بست مورد ضرورت.

۴–توانائی انکشاف و توسعۀ تجربۀ مسلکی افـــسران وبریـــدملان تحت اثر.

<u>تقرر افسران وبریدملان</u>

**مادۀچهارم:**

(۱)فارغان مؤسسات تحصیلات عالی نظامی داخل یاخارج کشور حایز سند لسانس، به رتبۀ دوه یم بریدمن مقرر می گردند.

(۲)فارغان کورس های مؤسسات تعلیمی نظامی داخل یا خـــارج

کـــورسونو فارغان د برېدمل په رتبه استخدامېږي.

(۳) د اړتيا په صورت کې د ملکي ښوونځيو د دوولسم ټولګي فارغان چې پـه ملـي اردو کـې يـې لږ تر لږهٔ يي درې کورسونه پـه برياليتوب سره سرته رسولي وي د سوق او ادارې د مهارت په لرلو سره د افسرۍ د کورس له ويلو وروسته دوه يم بريدمن مقررېږي.

(۴) د دولت مامورين او د لوړو زده کړو او ملکي ښوونيزو مؤسسو داوطلب فارغان د اړتيا په صورت کې، د نظامي ښوونو د ټاکلې دورې له تېرولو وروسته د افسر په توګه منل کېدی شي.

(۵) د دوولسمو يا له هغو څخه د لوړو ټولګيو فارغان چې د افسرۍ په کورسونوکې شامل شوي دي، له فراغت وروسته، هـغوی ته د دوه يم بريدمن رتبه ورکول کېږي.

له لېسانس څخه د لوړې بريالۍ زده کړې موده د هغوی د ترفيع په قدم

کشوربه رتبهٔ بريدمل اســتخدام می گردند.

(۳) فارغان صنوف دوازدهــم مکاتب ملکی در صورت ضرورت که حد اقل سه کورس بريدملی را در اردوی ملی موفقانه فراگرفته با داشــتن مهــارت ســوق و اداره بعد از فراگيری کــورس افــسری بــه رتبــهٔ دوه يــم بريدمن مقرر می گردند.

(۴)مامورين دولت و فارغــان مؤسسسات تحصيلات عــالی و تعليمی ملکی داوطلب در صورت ضرورت بعد از سپری نمودن دورهٔ معينهٔ تعليمات نظامی به حيث افسر پذيرفته شده می تواند.

(۵) فارغان صنوف دوازدهم يا بالاتر از آن که شامل کورس های افسری گرديده اند،بعد ازفراغت، رتبهٔ دوه يم بريدمن برای آنهــا اعطاء می گردد.

مدت تحصيل موفقانهٔ بــالاتر از لسانس در قدم ترفيع آنها محاسبه

کې محاسبه کېږي.

(٦) په ملي اردوکې د شاملېدو په وخت کې د افسرانو او برېدملانو د سن تثبیت د هغو د تابعیت د تذکرې له مخې صورت مومي.

(۷) د اړتیا په صورت کې د ملکي ښوونځیو له نهم څخه تر دوولسمو ټولګیو پورې د شرایطو لرونکي داوطلب فارغان په نظامي ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونو کې په بریالیتوب سره د نظامي زده کړو له سرته رسولو څخه وروسته د پرکمشر په رتبه استخدامېږي.

(۸) د شرایطو لرونکي داوطلب سرتېري، د لیاقت او وړتیا د لرلو په صورت کې په بالفعل خدمت کې د اړتیا له مخې د پرکمشر په رتبه استخدامېږي. د برېدملۍ د خدمت په دوره کې د سرتېرۍ د دورې د خدمت موده، د تقاعد د حقوقو د سنجولو په وخت کې په امتیازي توګه د محاسبې وړ ده.

می گردد.

(٦) تثبیت سن افسران وبرید ملان هنگام شمول در اردوی ملی به ملاحظهٔ تذکرهٔ تابعیت آنها صورت می گیرد.

(۷) فارغان صنوف نهم الی دوازدهم مکاتب ملکی داوطلب واجدشرایط در صورت ضرورت بعد از سپری نمودن موفقانهٔ تعلیمات نظامی در مکاتب ومراکز تعلیمی نظامی به رتبهٔ پرکمشراستخدام می گردند.

(۸) سربازان داوطلب واجدشرایط درصورت داشتن لیاقت و شایستگی در خدمت بالفعل و ضرورت، به رتبهٔ پرکمشراستخدام می گردند. میعاد خدمت دورهٔ سربازی به دورهٔ خدمت بریدملی حین سنجش حقوق تقاعد طور امتیازی قابل محاسبه می باشد.

د افسرانو او بريدملانو رديف او رتبې

پنځمه ماده:

(۱) د ملي اردو افسران په دريو رديفونو او هر رديف په لاندې رتبو وېشل کېږي:

۱- ځوان افسران: د دوه يم بريدمن ، لومړی بريدمن او تورن په ګډون.

۲- لوړ رتبه افسران: د جګړن، ډګرمن او ډګروال په ګډون.

۳- عالي رتبه افسران:د بريد جنرال ، تورن جنـــرال، ډګر جنـــرال او ســـتر جنـــرال په ګډون.

(۲) د ملي اردو بريدملان په دوو رديفونو کې او هر رديف په لاندې رتبو وېشل کېږي.

۱- د ټيټې رتبې بريـــدملان: د پرکمشر او د پرکمشر دمرستيال په ګډون.

۲- لوړ رتبه بريدملان:

دسرپرکمشر، د قدمدار سرپرکمشر مـــرستيال اودقـــدم دارسرپرکمشرپه ګډون.

رديف ورتب افسران وبريدملان

مادۀپنجم:

(۱) افسران اردوی ملی به سه رديف و هر رديف به رتب ذيل تقسيم می گردد:

۱- افسران جوان:شامل دوه يم بريدمن ،لومړی بريدمن و تورن.

۲- افسران بلند رتبـــه:شـــامل جگرن ، دگرمن ودگروال.

۳- افسران عالی رتبه: شـــامل بريد جنـــرال، تورن جـــنرال، دگرجنـــرال و ستر جنرال .

(۲)بريد ملان اردوی ملی بـــه دورديف وهر رديف به رتب ذيل تقسيم می گردند.

۱-بريدملان پائين رتبه:

شامل پرکمشرومعاون ســـرپر کمشر.

۲- بريـــدملان بلنـــد رتبـــه: شـــامل سرپرکمـــشر، معـــاون سرپرکمشر قدمدار و سرپرکمشر قدمدار.

**د بريد ملانو موقف**

**شپږمه ماده:**

بريدملان د تشکيل مطابق د قوماندانيت يا اداري په يوه له موقفونو کې قرار مومي.

## دوه يم فصل

## حقوق او وجيبې

**وجيبې**

**اوومه ماده:**

د ملي اردو افسران او بريدملان لاندې وجيبې لري:

۱-د عسکري تحليف سرته رسول او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته وفاداري.

۲- له خپلواکۍ، ملي حاکميت او ځمکنۍ بشپړتيا څخه دفاع، د هېواد امنيت او دفاعي وړتيا تأمينول، د اسلام د مبين دين او د نورو ملي مادي او معنوي ارزښتونو ساتنه.

۳- د دولتي نظامي اسرارو، وسلې او جګړه ييز تخنيک ساتنه.

۴- د ځان او اړوند پرسونل د

**موقف بريدملان**

**مادۀششم:**

بريد ملان مطابق تشکيل دريکی از موقف های قوماندانيت يا اداری قرار می گيرند.

## فصل دوم

## حقوق و وجايب

**وجايب**

**مادۀهفتم:**

افسران و بريدملان اردوی ملی دارای وجايب ذيل می باشند:

۱- اجرای تحليف عسکری و وفا داری به دولت جمهوری اسلامی افغانستان.

۲- دفاع از استقلال، حاکميت ملی و تماميت ارضی ،تأمين امنيت وقابليت دفاعی کشور، حراست از دين مبين اسلام وساير ارزش های مادی و معنوی ملی.

۳-حفظ اسرار نظامی دولتی، اسلحه و تخنيک محاربوی .

۴- ارتقای سطح دانش علمی

علمي نظامي، عقيدتي او فرهنگي پوهې د سطحې لوړول.
۵- د اړوند پرسونل له ښوونې او روزنې څخه څارنه.
۶- له وسلې او جګړه ييز تخنيک څخه د ګټې اخيستنې د ډول علمي او عملي زده کړه.
۷- له عامه شتمنۍ او ملکيت څخه ساتنه.
۸- د اړوند پرسونل مـادي او معيشتي تأميناتو ته پاملرنه.
۹- د تقوي، کارته د شا ورکولو، لوړ کرکتر او مورال لرل او په ټولنيزو مناسباتو او شخصي کړو وړو کې د شخصيت ښودل.
۱۰- د دندې د اجراء په وخت کې د تثبيت شوي نظامي يونيفورم اغوستل.
۱۱- دمراتبو دسلسلې او د نظامي عالي نظم اوډسپلين په پام کې نيول.
۱۲- په سياسي ګوندونو او سازمانونو کې نه غړيتوب او د خدمت په دوره کې په اعتصابونو او لاريونونو کې نه برخه

نظامی، عقيدتی و فرهنگی خود وپرسونل مربوط .
۵-مراقبت از تعليم وتربيهٔ پرسونل مربوط.
۶-آموختن علمی وعملی طرز استفاده از اسـلحه و تخنيـک محاربوی.
۷- حراست از دارائی و ملکيت عامه.
۸- مواظبت از تأمينات مادی و معيشتی پرسونل مربوط .
۹- داشـتن تقـوی، پـشت کـار،کرکترومورا ل عـالی وتبارزشخـصيت درمناسـبات اجتماعی وپيش آمدهای شخصی .
۱۰- ملبس بودن به يونيفـورم نظامی تثبيت شده حين اجـرای وظيفه .
۱۱- رعايت سلسلهٔ مراتب و نظم و دسپلين عالی نظامی .
۱۲- عدم عضويت دراحزاب و سازمان های سياسـی وسـهم نگرفتن در اعتصابات و تظاهرات

اخيستل.

۱۳- د بهرنيو هېوادونو له جاسوسي شبکو سره د اړيکو نه لرل.

۱۴- د هېواد د دښمنانو په وړاندې دوامداره مبارزه او په دې لاره کې د خپل ځان نه دريغول.

۱۵- د واکمنو آمرانو له قانوني امرونو څخه اطاعت کول.

۱۶- د هېواد د نافذو قوانينو او مقرراتو د حکمونو مطابق د نورو دندو ربښتيني سرته رسول.

**د نورو اتباعو په څېر د حقوقو او وجيبو لرل**

اتمه ماده:

د ملي اردو افسران او بريدملان د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اتباعو د ټولو حقوقو او وجيبو لرونکي دي، خو دا چې قانون بل ډول حکم کړی وي.

**حقوق**

نهمه ماده:

افسران او بريدملان د لاندې حقوقو

در طول مدت خدمت.

۱۳- عدم ارتباط باشبکه های جاسوسی کشورهای خارجی .

۱۴-مبارزۀ دوامدارعلیه دشمنان کشور ودریغ ننمودن جان خویش دراین راه.

۱۵- اطاعت ازاوامرقانونی آمرین ذیصلاح.

۱۶- انجام صادقانۀ سایر وظایف طبق احکام قوانین و مقررات نافذۀ کشور.

**داشتن حقوق و وجایب مانند سایر اتباع**

مادۀهشتم:

افسران و بریدملان اردوی ملی دارای تمام حقوق و وجایب اتباع جمهوری اسلامی افغانستان می باشند، مگر اینکه قانون طور دیگری حکم نموده باشد.

**حقوق**

مادۀنهم:

افسران وبریدملان دارای حقوق

لرونکي دي:

۱- معاش.

۲- ترفيع.

۳- تقاعد.

۴- استعفاء.

۵- رخصتي.

۶- روغتيايي خدمتونه.

۷- اعاشه.

۸- البسه.

۹- له تحصيلي بورسونو څخه ګټه اخيستل.

۱۰- ددې قانون او نورو اړوندو تقنيني سندونو د حکمونو مطابق، نور ټولنيز تأمينات.

معاش او نور امتيازونه

لسمه ماده:

(۱) د ملي اردو افسران او بريدملان له ښوونيزو يا زده کړه ييزې مؤسسې څخه د فراغت له نېټې څخه د معاش او ددې قانون په حکمونو کې د نورو درج شوو حقوقو او امتيازونو مستحق دي.

ذيل ميباشند:

۱- معاش .

۲-ترفيع .

۳-تقاعد.

۴- استعفاء.

۵-رخصتی.

۶-خدمات صحی .

۷-اعاشه .

۸-البسه .

۹-استفاده از بورس های تحصیلی.

۱۰- سایر تأمینات اجتماعی طبق احکام این قانون و سایر اسناد تقنینی مربوط.

معاش و سایر امتیازات

مادهٔ دهم:

(۱) افسران و بریدملان اردوی ملی از تاریخ فراغت از مؤسسهٔ تعلیمی یا تحصیلی مستحق معاش وسایر حقوق و امتیازات مندرج احکام این قانون می باشند.

(۲) که چېرې افسران او بريدملان دفعال موقت احتياط په موقف کې قرار و ومومي، ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو حقوقو او امتيازونو څخه برخمن کېږي.

(۳) د افسرانو او بريدملانو معاش او امتيازونه د هغوي د رتبو او د خدمت د کلونو له په پام کې نيولو سره، د هغۀ ټاکلي نورم مطابق چې د وزيرانو د شوري لخوا تثبيتېږي، ورکول کېږي.

امتيازي معاش

يوولسمه ماده:

(۱) افسران او بريدملان په لاندې حالاتو کې پر اصلي معاش برسېره له امتيازي معاش څخه هم برخمن کېدی شي:

۱- د نظامي الوتکو د بالفعل الوتنو د ترسره کولو په وخت کې د هغو د کلاس له په پام کې نيولو سره.

۲- په خاصو او کماندو قطعاتو کې د پراشوتي غور ځولو د دندو د

(۲)هرگاه افسران وبريدملان در موقف احتياط مؤقت فعا ل قرار بگيرند، از حقوق و امتيازات مندرج فقرۀ (۱) اين ماده مستفيد می گردند.

(۳)معاش و امتيازات افسران وبريدملان با نظر داشت رتب و سال های خدمت شان مطابق نورم معينۀ که از طرف شورای وزيران تثبيت می گردد، پرداخته می شود.

معاش امتيازی

مادۀ يازدهم:

(۱)افسران و بريدملان در حالات آتی علاوه بر معاش اصلی از معاش امتيازی نيزمستفيد شده می توانند:

۱- حين اجرای بالفعل پروازطيارات نظامی با نظرداشت کلاس آن.

۲- حين اجرای بالفعل وظايف پرتاب پراشوتی در قطعات خاص و

بالفعل ترسره کولو په وخت کې.
۳- د درانه فني او تخنيکي کار په شرايطو کې د بالفعل دندو د ترسره کولو په وخت کې.
۴- په نظامي روغتيايي مؤسسو کې روغتيا ته د مضرو شرايطو د دندو د ترسره کولو په وخت کې.
۵- د ماينونو او نورو چاودېدونکو توکو د خنثیٰ کولو د بالفعل دندو د ترسره کولو په وخت کې.
(۲) د نظامي زده کړه ييزو او ښوونيزو مؤسسو او د افسرۍ بريدملۍ کورسونو د محصلينو او زده کوونکو لپاره مدد معاش ورکول کېږي.
(۳) ددې مادې په (۱او ۲) فقره کې د درج شوي امتيازي معاش او مدد معاش اندازه د وزيرانو د شورې لخوا تثبيت او ټاکل کېږي.

کماندو.
۳- حين اجرای وظايف بالفعل در شرايط کار ثقيل فنی و تخنيکی.
۴- حين اجرای وظايف در شرايط مضر صحت در مؤسسات صحی نظامی.
۵- حين اجرای وظايف بالفعل خنثی نمودن ماين وساير مواد منفلقه.
(۲)برای محصلين و متعلمين مؤسسات تحصيلی و تعليمی نظامی و کورس های افسری و بريد ملی مدد معاش پرداخته می شود.
(۳)اندازهٔ معاش امتيازی و مدد معاش مندرج فقره های (۱و۲) اين ماده از طرف شورای وزيران تثبيت و تعيين می شود.

**دښوونې اوزده کړې دبهیرحقوق**

**دوولسمه ماده:**

(۱) هغه افسران او بریدملان چې د هېواد په دننه یا بهر ښوونیزو یا زده کړییزومؤسسو کې د ښوونې او زده کړې په غرض استول کېږي، د ښوونې یا زده کړې په بهیر کې د معاش او په دې قانون کې د نورو درج شویو حقوقو او امتیازونو مستحق دي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي برید ملان مکلف دي لږ تر لږه د (۵) کلونو مودې لپاره په ملي اردو کې خدمت وکړي.

**د لوړو زده کړو په مؤسسو کې شاملېدل**

**دیارلسمه ماده:**

(۱) د افسرۍ دکورسونو هغه فارغان چې د زده کړې درجه یې له لېسانس څخه ټيټه وي، کولی شي د افسرۍ د حقوقو او امتیازونو په ساتلو سره دنظامي

**حقوق جریان تعلیم یاتحصیل**

**مادۀدوازدهم:**

(۱)افسران وبریدملانیکه غرض تعلیم و تحصیل در مؤسسات تعلیمی یا تحصیلی داخل یا خارج کشور اعزام می گردند، در جریان تعلیم یا تحصیل مستحق معاش و سایر حقوق و امتیازات مندرج این قانون می باشند.

(۲)برید ملان مندرج فقرۀ (۱) این ماده مکلف اند برای حد اقل مدت (۵) سال در اردوی ملی خدمت نمایند.

**شمولیت درمؤسسات تحصیلات عالی**

**مادۀ سیزدهم:**

(۱)فارغان کورس های افسری که درجۀ تحصیل شان پائینتر از لسانس باشد، می توانند با حفظ حقوق و امتیازات افسری شامل مؤسسات

لوړوزده کړوپه مؤسسوکې شامل شي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شويو اشخاصو د شاملېدو ډول د اړوندې کړنلارې مطابق تنظيمېږي.

د ترفيع په قدم او تقاعد کې د زده کړې د مودې محاسبه

څوارلسمه ماده:

د افسرانو او بريد ملانو د برياليۍ زده کړې موده د هغوی د ترفيع په قدم او تقاعد کې د محاسبې وړ ده. که چېرې افسران او بريدملان د زده کړې په موده کې آزموينه په برياليتوب سرته و نه رسوي د زده کړې ورځې يې د ترفيع په قدم کې د محاسبې وړ نه دي، بياپه دنده ګمارل کېږي.

امتيازي معاش

پنځلسمه ماده:

د هېواد دننه او بهر د نظامي ښوونيزو او زده کړه ييزو مؤسسو

تحصيلات عالی نظامی گردند.

(۲) طرز شمولیت اشخاص مندرج فقرهٔ (۱) این ماده طبق طرزالعمل مربوط تنظیم می گردد.

محاسبهٔ مدت تحصیل به قدم ترفیع وتقاعد

مادهٔچهاردهم:

مدت تحصیل موفقانهٔ افسران و برید ملان به قدم ترفیع و تقاعد شان قابل محاسبه می باشد. هرگاه افسران و بریدملان در جریان تحصیل امتحان را موفقانه سپری ننمایند، ایام تحصیل به قدم ترفیع شان قابل محاسبه نبوده مجدداً به وظیفه توظیف می گردند.

معاش امتیازی

مادهٔپانزدهم:

فارغان مؤسسات تعلیمی و تحصیلی نظامی داخل و خارج

فارغان د افسر يا بريد مل په توګه د مقررېدو په وخت کې په امتيازي توګه د يوې مياشتې معاش مستحق دي.

## وړيا روغتيايي خدمتونه

شپاړسمه ماده:

برحال افسران او بريدملان او هغه افسران او بريدملان چې لږترلږه له پنځه و يشتو کلونو خدمت وروسته متقاعد کېږي، خپله او خپلوان يې د ملي اردو په يوهٔ روغتيايي مرکز کې له وړيا روغتيايي خدمتونو څخه برخمن کېدای شي.

خپلوان پدې منظور عبارت دي له:

۱- مېرهٔ، مېرمنه، له مېړه پرته لور ،هغه زوی چې د اتلس کلنۍ سن يې بشپړ کړی نه وي او هغه زوی چې سن يې له(۱۸)کلونوڅخه لوړ ،معلول يا په ښوونې اوزده کړې بوخت وي.

۲- پلار، مور، له مېړه پرته خور، هغه ورور چې د اتلس کلنۍ سن يې بشپړ کړی نه وي، معلول يا پــه

کشورحين تقرربه حيث افــسر يابريد مــل مــستحق يکماهــه معـــاش طـــور امتيـــازی می باشند.

## خدمات صحی رايگان

مادهٔشانزدهم:

افسران وبريدملان برحال وافسران و بريد ملانيکه حد اقل بعــد از بيست وپنج سال خدمت متقاعد می گردند، خود واقارب آنها از خدمات صحی رايگان در يکی از مراکز صحی اردوی ملی مستفيد شده می توانند.

اقارب به اين منظورعبارت اند از:

۱-زوج، زوجه، دختربدون شوهر، پسری که سن هجده سالگی را تکميل نکرده، و پسر بالاتر از سن (۱۸)معلول يا مصروف تعليم يا تحصيل باشد.

۲-پدر، مادر، خواهربدون شوهر برادری که سن هجده سالگی را تکميل نکرده، معلول يا مصروف

ښووني او زده کړې بوخت وي، پدې شرط چې افسران او بريدملان د هغوي د معيشت متکفل وي.

## کرايه او سفريه

اوولسمه ماده:

هغه افسران او بريدملان چې نوي مقرر يا تبديلېږي، د وزيرانـــو د شوري لخوا د تثبيت شوي نورم پر بنسټ د کرايې او سفريي مستحق کېږي.

## د حقوقو او امتيازونو ځنډېدل

اتلسمه ماده:

(۱) که چېرې افسر او بريدمل د جرم په ارتکاب، تورن کړای شي، د نظـــارت، توقيـــف، تحقيـــق او محـــاکمې پـــه مـــوده کـــې د هغهٔ د وظيفوي حقوقو او امتيازونو ترسره کېدل، ځنډول کېږي.

(۲) که چېرې ځارنوال د نظارت په موده کې له تحقيق څخه وروسته د افسر يا بريدمل د نه تعقيبولو قرار صادر او هغه د تأديب وړ وګڼي او

تعليم يا تحصيل بوده مشروط بر اينکه افسر وبريدمل متکفل معيشت آنها باشد.

## کرايه وسفريه

مادهٔ هفدهم:

افسران وبريدملان که جديـــداً مقرريا تبديل می گردند، طبق نورم تثبيت شده از طرف شورای وزيران مستحق کرايه و سفريه شناخته می شوند.

## معطل قرارگرفتن‌حقوق‌وامتيازات

مادهٔ هجدهم:

(۱)هرگاه افسر و بريدمل بـــه ارتکاب جرم، مورد اتهام قرارگيرد، اجرای حقوق و امتيازات وظيفوی وی در مدت نظارت، توقيـــف، تحقيق و محاکمه معطل قرار داده می شود.

(۲)هرگاه در مـــدت نظـــارت ځارنوال بعد از تحقيق قرار عدم تعقيب افسريا بريدمل را صادر يا اورا مستوجب تأديب بداند ويا در

يا د محاكمې په پايله كې بري الذمه شي، د هغه د تعليق او محاكمې د مودې ټول حقوق وركول كېږي، مگر دا چې په قرارداد كې بل ډول تصريح شوي وي.

(۳) كه چېرې افسر يا بريدمل په تنفيذي حبس باندې محكوم شي،د نظارت، توقيف، تحقيق او محاكمې په موده كې د معاش او نـــورو امتيازونو مستحق نه گڼل كېږي.

(۴) كه چېرې افسر يا بريدمل د محاكمې په پايله كې د تعليقي حبس په مجازاتو محكوم شي، د معاش او نورو اړوندو امتيازونو مستحق گڼل كېږي. په تعليقي حبس د محكوم عليه د رتبې ترفيع او ارتقاء د تعليق د مودې تر تېرېدو پورې ځنډول كېږي.

(۵) په هغهٔ صورت كې چې افسر يا بريدمل په دواړو حبسونو (تنفيذي او تعليقي) محكوم شي، د تنفيذي حبس په برخه كې ددې مادې په (۳) فقره كې درج شوی حكم او د

نتيجهٔ محاكمه برى الذمه گردد، معاش و ساير حقوق دورهٔ تعليق و محاكمهٔ آنها پرداخته مى شود، مگراينكه در قرارداد طور ديگرى تصريح شده باشد.

(۳)در صورت محكوميت به حبس تنفيذى، افسر و بريدمل مستحق معاش وساير امتيــازات مـــدت نظارت، توقيف تحقيق ومحاكمه نمى گردد.

(۴)هرگاه افسر يا بريدمل در نتيجهٔ محاكمه، محكوم به مجازات حبس تعليقى گردد، مستحق معاش و ساير امتيازات مربوط دانسته مى شود. ترفيع وارتقاى رتبهٔ محكوم عليه به حبس تعليقى الى سپرى شدن مدت تعليق معطل قرارداده مى شود.

(۵)در صورتى كه افسر يا بريدمل به هردو حبس (تنفيذى وتعليقى) محكوم گردد، در قسمت حبس تنفيذى، حكم مندرج فقرهٔ (۳)و درقسمت حبس تعليقى حكـــم

تعليقي حبس په برخه کې په (۴) فقره کې درج شوی حکم د تطبيق وړ دی.

## دريم فصل

## د افسر او بريدمل موقف

**موقف**

**نولسمه ماده:**

افسر او بريدمل د دندې په بهير کې په يوه له لاندې موقفونو کې قرار مومي:

۱- اصلي موقف (بالفعل خدمت).

۲- خدمتي موقف.

۳- زده کړه ييز موقف.

۴- د مؤقت (فعال) احتياط موقف.

۵- د غير مؤقت احتياط (غيابي احتياط) موقف.

۶- د اضطرار او سفربرۍ په حالت کې د احتياط موقف.

**اصلي موقف**

**شلمه ماده:**

اصلي موقف (بالفعل خدمت): هغه حالت دی چې افسران او بريدملان په بالفعل توګه (په تشکيل کې په

مندرج فقرهٔ (۴) این ماده قابل تطبیق می باشد.

## فصل سوم

## موقف افسر وبریدمل

**موقف**

**مادهٔنزدهم:**

افسر وبریدمل در جریان وظیفه به یکی از موقف های ذیل قرار می گیرد:

۱-موقف اصلی(خدمت بالفعل).

۲-موقف خدمتی.

۳-موقف تحصیلی.

۴-موقف احتیاط مؤقت(فعال).

۵-موقف احتیاط غیرمؤقت(احتیاط غیابی).

۶-موقف احتیاط در حالت اضطرار و سفربری.

**موقف اصلی**

**مادهٔ بیستم:**

موقف اصلی (خدمت بالفعل ): حالتی است که افسران و بریدملان طور بالفعل (دربست

شامل بست کې) په ملي اردو کې دنده سرته رسوي او د ملي اردو د شته پرسونل د شمېر په ټولګه کې محاسبه کېږي.

**خدمتي موقف**

**یوویشتمه ماده:**

خدمتي موقف: هغه حالت دی چې افسران او بریدملان د واکمن مقام د لزوم دید له مخې پر اصلي دندې برسېره، په لنډ مهاله توګه د رسمي دندو د سرته رسولو لپاره توظیفېږي.

**د زده کړې موقف**

**دوه ویشتمه ماده:**

د زده کړې موقف: هغه حالت دی چې افسران او بریدملان د واکمن مقام د موافقې پر بنسټ د هېواد په دننه او بهر کې په زده کړه بوخت وي او په دې قانون کې له درج شویو حقوقو او امتیازونو څخه برخمن کېږي.

شامل تشکیل) در اردوی ملی ایفای وظیفه نموده و در جمع تعداد موجود پرسونل اردوی ملی محاسبه می گردند.

**موقف خدمتی**

**مادهٔبیست ویکم:**

موقف خدمتی: حالتی است که افسران وبریدملان حسب لزوم دید مقام ذیصلاح علاوه از وظیفهٔ اصلی ،طور مؤقت جهت انجام وظایف رسمی توظیف می گردند.

**موقف تحصیل**

**مادهٔبیست ودوم:**

موقف تحصیل: حالتی است که افسران و بریدملان به اساس موافقهٔ مقام ذیصلاح در داخل یا خارج ازکشور مصروف تحصیل بوده و از حقوق و امتیازات مندرج این قانون مستفید می گردند.

## د فعال احتياط موقف

**درويشتمه ماده:**

(۱) افسران او بريدملان په لاندې حالاتوکې د فعال احتياط په موقف کې قرار مومي او په دې قانون کې له درج شويو حقوقو او امتيازونو څخه برخمن کېږي:

۱- د تشکيلاتي بست تنقيص.

۲- د هېواد په دننه يا بهر کې دوامداره درملنه.

۳- د کشف او استخباراتو د ادارو له تأييد څخه وروسته اسارت يا ورک کېدل.

## د غير فعال احتياط موقف

**څلېرويشتمه ماده:**

افسران او بريدملان په لاندې حالاتو کې د غير فعال احتياط په موقف کې قرار مومي:

۱- د دندې پخپل سر پرېښودل.

۲- د واکمنې محکمې په وروستي حکم د معا ش او نورو امتيازونو قطع کېدل.

۳- د ټاکلې مودې له بشپړېدو

## موقف احتياط فعال

**مادۀ بيست وسوم:**

(۱)افسران و بريدملان درحالات آتی در موقف احتياط فعال قرار گرفته و از حقوق و امتيازات مندرج اين قانون مستفيد می گردند:

۱- تنقيص بست تشکيلاتی .

۲- تداوی دوامداردر داخل ياخارج کشور.

۳- اسارت يا مفقوديت بعد از تأييد ادارات کشف و استخبارات.

## موقف احتياط غير فعال

**مادۀبيست وچهارم:**

افسران وبريدملان در حالات آتی در موقف احتياط غير فعا ل قرار می گيرند:

۱-ترک خود سرانه وظيفه.

۲- قطع معاش وساير امتيازات به حکم نهائی محکمۀ ذيصلاح.

۳-انفکاک از بست بعد از تکميل

وروسته له بست څخه انفکاک.

## د اضطرار یا سفربرۍ په حالت کې احتیاط

**پنځه ويشتمه ماده:**

هغه افسران او بریدملان چې په ملي اردو کې يې فعال خدمت سرته رسولي دي په احتياط کې شاملېږي او د اړتيا په صورت کې د هغوی د سن له په پام کې نيولو سره په دې قانون کې د درج شوي حکم پر بنسټ بيا بالفعل خدمت ته جلبېږي.

## څلورم فصل

## د افسرانو او بریدملانوترفيع

### ترفيع

**شپږويشتمه ماده:**

(۱) افسر د مساعد سجل په اخيستلو، د بست د شتون او د تجربو د لرلو په صورت کې د زده کړې د رشتې، وړتيا، جسمي او روحي توانمنۍ او مساعدې روغتيايي وضع اوداختصاصي کورس د ويلو

میعاد معینه.

## احتیاط در حالت اضطراریا سفر بری

**مادۀ بیست وپنجم:**

افسران و بریدملان که خدمت بالفعل را در اردوی ملی انجام نموده اند، شامل احتیاط گردیده ودر صورت ضرورت با نظرداشت سن آنها طبق احکام مندرج این قانون مجدداً به خدمت بالفعل جلب می گردند.

## فصل چهارم

## ترفیع افسران وبریدملان

### ترفیع

**مادۀ بیست وششم:**

(۱)افسر با اخذ سجل مساعد در صورت موجودیت بست و داشتن تجارب بانظرداشت رشتۀ تحصیلی، شایستگی، توانائی جسمی و روحی و وضع صحی مساعد و فرا گیری کورس

له په پام کې نیولو سره، له شته رتبې څخه لوړې رتبې ته ترفیع کوي.

(۲) د افسرانو او بریدملانو د اجراآتو ارزونه(د سجورکولوچارې) د جلاکړنلارې مطابق تنظیمېږي.

(۳) په هره رتبه کې د ترفیع لپاره د افسرانو د بالفعل خدمت موده، په لاندې توګه ده:

۱– دوه یم بریدمن، د دوو کلونو مودې بشپړول.

۲– لومړی بریدمن، د دریوکلونو مودې بشپړول.

۳–تورن،دڅلوروکلونومودې بشپړول.

۴–جګړن،ددریو کلونو مودېبشپړول.

۵– ډګرمن، د څلورو کلونو مودې بشپړول.

٦– ډګروال، د دریو کلونو مودې بشپړول.

(۴) د جنرالۍ رتبې ته ترفیع د بست د شتون او د لوړو زده کړو د سند د لرلو، کافي مسلکي تجربې، اهلیت، وړتیا او دندې پېژندنې، سوق او جګړه ییزې ادارې او

اختصاصی از رتبهٔ موجود به رتبهٔ بالاتر، ترفیع می نمایند.

(۲)ارزیابی اجراآت افسران و بریدملان (امورسجل دهی) طبق طرزالعمل جداگانه تنظیم می گردد.

(۳)مدت خدمت بالفعل افسران برای ترفیع در هر رتبه قرار ذیل است:

۱–دوه یم بریدمن، اکمال مدت دوسال.

۲– لومړی بریدمن، اکمال مدت سه سال.

۳– تورن،اکما ل مدت چهار سال.

۴–جگرن،اکمال مدت سه سال.

۵– دگرمن، اکمال مدت چهار سال .

٦–دگروال،اکمال مدت سه سال.

(۴)ترفیع به رتبهٔ جنرالی در صورت موجودیت بست و داشتن سند تحصیلات عالی، تجربهٔ کافی مسلکی، اهلیت، شایستگی و وظیفه شناسی، سوق وادارهٔ

دمساعدې روغتيايي وضع د لرلو په صورت کې، د ملي دفاع د وزير په وړانديز او د جمهور رئيس پــه منظورۍ صورت مومي.

(۵) له بريد جنرال څخه تر ستر جنرال پورې د رتبو نوبتي ترفيع ګانې، ددې قانون په (۲) فقره کې د درج شوو شرايطو له په پام کې نيولو سره په هره رتبه کې د دريو کلونو بالفعل خدمت په بشپړولو سره صورت مومي.

(٦) په هره رتبه کې د ترفيع لپاره د بريدملانو د خدمت موده، د مساعد سجل له اخيستلو وروسته په لاندې توګه ده:

۱- پرکمشر، د دوو کلونو مودې بشپړول.

۲- د سرپرکمشر مرستيال، د دوو کلونو مودې بشپړول.

۳- سرپرکمشر، د دريو کلونو مودې بشپړول

۴- د قدمدار سرپرکمشر مرستيال، د دريو کلونو مودې بشپړول.

محــــاربوی و وضــــع صـــحی مساعد به پیشنهاد وزیردفاع ملی و منظوری رئیس جمهورصـــورت می گیرد.

(۵)ترفیعات نوبتی رتب برید جنرال الی ستر جنرال با اکــمال مدت سه سال خدمت بالفعل در هر رتبه با نظرداشت شرایط مندرج فقرهٔ (۲) این ماده صورت می گیرد.

(٦)مدت خدمت بریـــدملان برای ترفیع در هررتبه بعد از اخذ سجل مساعد قرار ذیـــل است:

۱- پرکمشر، اکمـــا ل مـــدت دوسال.

۲- معاون سرپرکمشر، اکـــمال مدت دوسال.

۳- سرپرکمشر، اکمال مدت سه سال .

۴-معاون سرپرکمشر قدمدار،

(۷) د هغو افسرانو او بريد ملانو نوبتی ترفيع چې ټــاکلې مــوده بشپړوي، د هماغې مياشتې په پای کې صورت مومي.
هغه افسر او بريدمل چې په ټاکلې نېټه د ترفېع مستحق پيژندل شوي خود اداري ستونزو له امله يې په ټاکلې نېټه ترفېع يې اجراء نشي، د ستونزې له لرې کېدو وروسته د هغهٔ ترفېع په هره موقع کې چې اجراء شي، د استحقاق له نېټې څخه د اعتبار وړ ده.
(۸) هغه بريد مل چې د افسرۍ رتبې ته رسېږي، که چېرې د افسرۍ د رتبې او بست معاش د هغه د دمخه معاش ته په کتنې سره لږ وي، د افسرۍ د رتبې او بست د معاش تر معادل کېدو پورې، هغهٔ ته د بريدملۍ د رتبې وروستنی معاش، د مياشتني معاش په توگه ورکــول کېږي.
د بريدملۍ د دورې د خدمت موده د هغهٔ د افسرۍ د خدمت په دوره

اکمال مدت سه سال.
(۷) ترفيع نوبتی افسران وبريدملان که ميعاد معينه را تکميل می نمايند در آخر همــان مــاه صــورت می گيرد.
افسر وبريدملی که به تاريخ معينه مستحق ترفيع شناخته شده مگر نسبت مشکلات اداری درمدت معينه ترفيع او اجراء شده نتواند بعد از رفــع مــشکل، ترفيــع وی در هرموقعيکــــه اجــــراء گـــردد،از تـــاريخ اســـتحقاق مدار اعتبار می باشد.
(۸)بريد ملی که به رتبهٔ افسری نايل می شود، هرگاه معاش رتبه وبست افسری نظر به معاش قبلی آن کمتر باشد، الی معادل شدن معاش رتبه وبست افسری،برای وی آخرين معاش رتبهٔ بريدملی به حيث معاش ماهوار، پرداخته می شود.
ميعاد خدمت دورهٔ بريدملی به دورهٔ خدمت افسری وی قابل محاسبه

کې د محاسبې وړ ده.

## د ترفېع د نه اجراء حالات

**اووه ويشتمه ماده:**

د افسرانو او بريدملانو نوبتي ترفېع ګانې په يوه له لاندې حالاتو کې نشي اجراء کېدی:

۱- د بست نشتون.

۲- د تعليقي او تنفيذي بند په موده کې.

۳- له موجه عذر پرته غيابت.

۴- اسارت.

۵- د فزيکي وړتيا او مساعدې روغتيايي وضع نلرل.

۶-د تحصيل نا موفقه موده.

## فوق العاده ترفېع

**اته ويشتمه ماده:**

هغه افسران او بريدملان چې په جګړه ييزو دندو کې له ځان ځخه وړتيا، شهامت، نوښت، سرښندنه او ريښتينې کړنه و ښيې کولی شي چې د رتبې ترفېع يې په فوق العاده توګه اجراء شي، په دې شرط چې په

می باشد.

## حالات عدم اجرای ترفیع

**مادۀ بیست وهفتم:**

ترفیعات نوبتی افسران وبریدملان دریکی ازحالات ذیل اجراء شده نمی تواند:

۱-عدم موجودیت بست.

۲-در مدت حبس تعلیقی وتنفیذی.

۳-غیابت بدون عذر موجه.

۴-اسارت.

۵-نداشتن قابلیت فزیکی ووضع صحی مساعد.

۶-مدت تحصیل نا موفق.

## ترفیع فوق العاده

**مادۀ بیست وهشتم:**

ترفیع رتبۀ افسران وبریدملانیکه در وظایف محاربوی از خود شایستگی، شهامت، ابتکار، فدا کاری و عملکرد صادقانه نشان بدهند، می تواند به طور فوق العاده اجراء گردد، مشروط براینکه

موجوده رتبه کې د هغوی د خدمت موده له لاندې مودو څخه لږ نه وي:

۱- دوه يم بريدمن، شپږمياشتې.

۲- لومړی بريدمن، اته مياشتې.

۳- تورن، لس مياشتې.

۴- جګړن، يو کال.

۵- ډګرمن، څوارلس مياشتې.

۶- ډګروال، اتلس مياشتې.

۷- د جنرالۍ په هره ورروستۍ رتبه کې، يو کال.

۸- پرکمشر، شپږمياشتې.

۹-دسرپرکمشرمرستيال،شپږمياشتې.

۱۰- سرپرکمشر، اته مياشتې.

۱۱- د قدمدارسرپرکمشر مرستيال ، اته مياشتې.

## د ترفيع منظوري

**نهه ويشتمه ماده:**

(۱) د عالي رتبه افسرانو د نوبتي او فوق العاده ترفيع ګانو منظوري د جمهور رئيس واک دی.

(۲) د لوړې رتبې دافسرانو د

مدت خدمت شان در رتبۀ موجوده کمتر از مدت های ذيل نباشد:

۱-دوه يم بريدمن، شش ماه.

۲- لومړی بريدمن، هشت ماه.

۳- تورن، ده ماه.

۴-جگړن، يک سال .

۵- ډگرمن، چهارده ماه.

۶-دگروال، هجده ماه.

۷-درهررتب بعدی جنرالی ،يکسال.

۸- پرکمشر، شش ماه.

۹-معاون سرپرکمشر،شش ماه.

۱۰-سرپرکمشر،هشت ماه.

۱۱- معاون سرپرکمشر قدمدار ،هشت ماه.

## منظوری ترفيع

**مادۀ بيست ونهم:**

(۱) منظوری ترفيعات نوبتی وفوق العادۀ افسران عالی رتبه از صلاحيت رئيس جمهور می باشد.

(۲)ا عطای رتبۀ اولی ومنظوری

لومړنۍ رتبې ورکول او د نوبتي او فوق العاده ترفېع ګانو منظوري د ملي دفاع د وزير واک دی.

(۳) د ځوانو افسرانو د نوبتې او فوق العاده ترفېع ګانو منظوري، د ستر درستيز واک دی.

(۴) د بريد ملانو د لومړنۍ رتبې ورکول او د نوبتي او فوق العاده ترفېع ګانو منظوري د هغې کړنلارې مطابق چې د ملي دفاع د وزارت لخوا ترتيبيږي،صورت مومي.

## د ترفېع په قدم او تقاعد کې د اسارت يا ورک کېدو د مودې نه محاسبه کېدل

دېرشمه ماده:

هغه افسران او بريدملان چې اسير يا ورک شوي دي، له خوشې کېدو يا حاضرېدو او د ملي دفاع وزارت د کشفي ادارو په تأييد هېواد ته د وفادارۍ په ثابتولو سره په دنده مقررېږي او د اسارت يـــا ورک کېدو موده د هغوی د ترفېع په قدم

ترفيعات نوبتی وفوق العادهٔ افسران بلند رتبه ازصلاحيت وزير دفاع ملی می باشد.

(۳)منظوری ترفيعات نوبتی وفوق العادهٔافسران جوان از صلاحيت ستر درستيز می باشد.

(۴)اعطای رتبهٔ اولی ومنظوری ترفيعات نوبتی و فـــوق العـــادهٔ بريدملان مطـــابق طرزالعمـــل که ازطرف وزارت دفاع ملـــی ترتيب می شود، صورت می گيرد.

## عدم محاسبهٔ مدت اســـارت يـــا مفقوديـــت درقـــدم ترفيع وتقاعد

مادهٔ سی ام:

افسران وبريد ملانيکه اسير يـــا مفقود گرديده اند، بعد ازرهائی يا حاضرشدن واثبات وفاداری به وطن ودولت و تأييد ادارات کـــشفی وزارت دفاع ملی به وظيفه مقرر گرديده، مدت اسارت يا مفقوديت در قدم ترفيع وتقاعد آنها قابل

يا تقاعد کې د محاسبې وړنده.

## د افسرانو او بريدملانو تقدير

**يو دېرشمه ماده:**

هغه افسران او بريدملان چې په جګړه ييزو فعاليتونو يا سپارل شوو دندوکې له ځانه ځخه زړورتيا، اتلولي او وړتيا و ښيي، د قانون له حکمونو سره سم د نښانونو، مډالونو، القابو، وياړمنو علايمو او نغدي مکافاتو په ورکولو تقديرېداى شي.

## پنځم فصل

## د افسرانو او بريدملانو مقرري او تبديلي

### نه مقررېدل

**دوه دېرشمه ماده:**

افسران او بريدملان په هغه اداره او جزوتام کې چې سجل ورکوونکي لومړى آمر يې له خپلوانو ځخه وي، مقرر او استخدامېدى نشي. خپلوان په دې منظور له مېړه، مېرمنې، پلار، مور،

محاسبه نمى باشد.

## تقدير افسران وبريدملان

**مادۀسى ويکم:**

افسران وبريدملانيکه در فعاليت هاى محاربوى يا وظايف محوله از خود شجاعت، قهرمانى وشايستگى تبارز دهند، با اعطاى نشانها، مدالها، القاب، علايم افتخارى و مکافات نقدى طبق احکام قانون تقدير شده مى توانند.

## فصل پنجم

## تقرروتبديلى افسران وبريدملان

### عدم تقرر

**مادۀ سى ودوم:**

افسران وبريدملان در اداره و جزوتام ايکه آمر سجل دهندۀ اولى از اقارب وى باشد، مقرر واستخدام شده نمى توانند. اقارب بدين منظور عبارت اززوج، زوجه، پدر، مادر،

زوی، لور، وروړ او خور څخه عبارت دي.

## په ټيټ بست کې نه مقررېدل او استخدام

**دري دېرشمه ماده:**

ريفورم شوي افسران او بريد ملان له خپلې رتبې څخه په ټيټ بست کې نشي مقررېدای او استخدامېدای لاندې حالات له دې امر څخه مستثنیٰ دي:

۱- د اضطراراو سفربرۍ حالت.

۲- تشکيلاتي تنقيص.

۳- په اړوند بست کې د دندو د اجراء د توان نه لرل.

## مقررېدل او تبديلي

**څلور دېرشمه ماده:**

(۱)د بريدملانو او افسرانو مقررېدل او تبديلي ددې قانون د لاندې مقامونو له واک څخه دي:

۱-بريدملان د کنډک دقوماندان په وړانديز او د لوا قوماندان په منظورۍ.

پسر، دختر، برادر و خواهر می باشد.

## عدم تقررواستخدام دربست پائين تر

**مادۀ سی وسوم:**

افسران وبريد ملان ريفورم شده در بست پائين تر از رتبۀ خود مقررو استخدام شده نمی توانند. حالات ذيل از اين امر مستثنی است:

۱-حالت اضطرار وسفربری.

۲- تنقيص تشکيلاتی.

۳-عدم توانائی اجرای وظايف در بست مربوط.

## تقرر و تبديلی

**مادۀسی وچهارم:**

(۱)تقرر وتبديلی افسران وبريدملان از صلاحيت مقامات ذيل می باشند:

۱-بريدملان به پيشنهاد قوماندان کندک و منظوری قوماندان لوا.

۲-دوه يم بريدمن او لومړی بريدمن د لوا يا د فرقې د قوماندان په وړانديز او د قول اردو د قوماندان په منظورۍ.

۳-د تورن له بست څخه تر ډګرمن پورې د قول اردو د قوماندان په وړانديز او ستردرستيز په منظورۍ.

۴-ډګروال د ستردرستيز يا د دفاع د وزارت د معاونينو په وړانديز او د دفاع د وزير په منظورۍ.

۵-له ډګروال څخه لوړه رتبه افسران د دفاع د وزير په وړانديز او د جمهور رئيس په منظورۍ.

(۲) هغه افسران او بريدملان چې له نظامي زده کړيزو يا ښوونيزو مؤسسو څخه فارغ شويدي، د تحصيلي رشتې مطابق د عملي تجربو دترلاسه کولو په منظور په جزوتامونو کې ټاکل او ګمارل کېږي.

۲-دوه يم بريدمن و لومړی بريدمن به پيشنهاد قوماندان لوا يا فرقه و منظوری قوماندان قول اردو.

۳-بست تورن الی دگرمن به پيشنهاد قوماندان قول اردو و منظوری ستردرستيز.

۴-ډگروال به پيشنهاد ستردرستيز يا معاونين وزارت دفاع و منظوری وزير دفاع.

۵-رتبه بالاتر از ډگروال به پيشنهاد وزير دفاع و منظوری رئيس جمهور.

(۲)افسران وبريدملانی که از مؤسسات تحصيلی يا تعليمی نظامی فارغ گرديده اند،مطابق به رشتۀ تحصيلی به منظور کسب تجارب عملی به جزوتام ها تعيين و توظيف می گردند.

## لوړ بست ته تبديلېدل

**پنځه دېرشمه ماده:**

لوړ بست ته د افسرانو او بريدملانو تبديلېدل تر دغو شرايطو لاندې صورت موندلی شي:

۱- د بست شتون.

۲- وړتيا د هغوی د تحصيلي رشتې له په پام کې نيولو سره.

## د تبديلۍ شرايط

**شپږدېرشمه ماده:**

(۱) له رتبې څخه ټيټ بست ته د افسر او بريدمل تبديلي تر يو ددغو شرايطو لاندې صورت موندلی شي:

۱- تشکيلاتي تنقيص.

۲- د کار د دروندوالي د کمولو په منظور د روغتيايي کمېسيون د نظر مطابق روغتيايي وضع.

۳- د مستقيم آمر وړانديز د تبديلۍ د موجبې په يادولو سره، د واکمن مقام له غور او ارزونې وروسته.

(۲) هغه افسر او بريدمل چې ټيټ بست ته تبديل شوی دی،

## تبديلی دربست بلندتر

**مادهٔ سی وپنجم:**

تبديلی افسران وبريدملان در بست بلندتر تحت شرايط ذيل صورت گرفته می تواند:

۱-موجوديت بست.

۲-شايستگی با نظر داشت رشتهٔ تحصيلی آنها.

## شرايط تبديلی

**مادهٔ سی وششم:**

(۱)تبديلی افسروبريدمل در بست پائينترازرتبه تحت يکی ازشرايط ذيل صورت گرفته می تواند:

۱-تنقيص تشکيلاتی.

۲-وضع صحی مطابق نظر کميسيون صحی به منظور تقليل ثقلت کار.

۳-پيشنهاد امر مستقيم با ذکر موجبهٔ تبديلی بعد از غور وارزيابی مقام ذيصلاح.

(۲)افسرو بريدمل که به بست پائينتر تبديل شده، در

ددې مادې په (۱) فقــره کــې د درج شوو شرايطو په لرې کېدو سره ببرته په لوړ بست کې ټاکل کېدی شي.

د سرپرست ټاکل

اووه دېرشمه ماده:

په اړونده قطعه کې د کمبود يا د افسر د غير حاضرۍ په صورت کې واکمن آمر کولی شي بل افسر د سرپرست په توګه توظيف کړي.

## شپږم فصل

## د افسرانو او بريدملانو رخصتي

رخصتي

اته دېرشمه ماده:

(۱) افسران او بريدملان د حضر په حالت کې په لاندې توګه له معاش سره د کلنيو رخصتيو مستحق دي:

۱- د لارې پر واټن برســېره (۳۰) ورځې تفريحي رخصت.

د لارې لرې والی په جلا کړنلاره

صورت رفع شــرايط منــدرج فقرهٔ (۱) ايــن مــاده دوبــاره به بست بلند تر تعيــين شـــده می تواند.

توظيف سرپرست

مادهٔ سی وهفتم:

در صورت کمبود يا غير حاضری افسر در قطعهٔ مربوط، آمر ذيصلاح می تواند افسر ديگری را به حيث سر پرست توظيف نمايد.

## فصل ششم

## رخصتی افسران و بريدملان

رخصتی

مادهٔسی وهشتم:

(۱)افسران وبريدملان در حالت حضرمــستحق رخــصتی هــای سالانهٔ بامعاش طور ذيل می باشند:

۱- (۳۰) روز رخصت تفريحی علاوه برمسافهٔ راه.

بعد مسافهٔ راه در طرزالعمــل

کې تنظيمېږي.
۲- (۱۰) ورځې ضروري رخصتي.
۳- (۱۰) ورځې د واده رخصتي.
۴- (۱۰) ورځې د ناروغۍ رخصتي چې تر پنځو ورځو پورې دليکلې خبرتيا په استولوسره دګټې اخيستنې وړ ده. که چېرې ناروغۍ له پنځو ورځو څخه زياته شي، مکلف دی د زياتې شوې مودې لپاره د معالج ډاکتر تصديق وړاندې کړي.
۵- د بريدملانو لپاره د بيا قرارداد په پيل کې د (۱۰) ورځې امتيازي رخصتي.
۶- د زحمتونو او په ريښتينولۍ سره د دندو له اجراء څخه د مننې په منظور (۴) ورځې د هڅونې رخصتي.
۷- د ښځينه افسرانو او بريدملانو لپاره (۹۰) ورځې د زېږون رخصتي چې يو ثلث يې له زېږون څخه دمخه يا وروسته او دوه ثلثه يې له زېږون څخه وروسته د اجراء وړ ده. د غير طبيعي يا غبرګونې يا زيات زېږون په

جداگانه تنظيم می گردد .
۲- (۱۰)روزرخصت ضروری .
۳- (۱۰)روزرخصت ازدواج.
۴- (۱۰) روز رخصت مريضی که الی پنج روز با فرستادن اطلاعيهٔ تحريری قابل استفاده است. هرگاه مريضی از پنج روز تجاوز کند مکلف است برای مدت اضافی تصديق طبيب معالج را ارايه نمايد.
۵- (۱۰) روز رخصت امتيازی برای بريدملان در آغاز قرارداد مجدد.
٦- (۴)روزرخصت تشويقی به منظور قدردانی از زحمات واجرای وظايف صادقانه.
۷-(۹۰)روزرخصتی ولادی برای افسران و بريدملان زن که يک ثلث آن قبل يا بعد ازولادت و دوثلث آن بعد از ولادت قابل اجراء می باشد. در صورت ولادت غير طبيعی يا دوگانگی يا بيشتر از

صورت کې، (۱۵) ورځې موده زیاته رخصتي هغو ته ورکول کېږي.

(۲) افسران د خدمت د دوام په موده کې او بریدملان د قرارداد د نوي کېدو په دوروکې یوازې یو ځل د حج د فریضې داداکولویا دمتبرکه اماکنو دزیارت لپاره له مزد سره د(۴۵) ورځو رخصتۍ مستحق دي.

**د تفریحي رخصتۍ لېږدېدل**

**نهه دېرشمه ماده:**

هغه افسران او بریدملان چې د حتمي اړتیا له مخې له کلنۍ تفریحي رخصتۍ څخه ګټه وانخستلي شي، د هغوی رخصتي یوازې په هغهٔ صورت کې راتلونکي کال ته لېږدېږي چې مافوق قوماندان یې مؤجه دلایل وړاندې کړی شي

**د رخصتۍ ورکول**

**څلوېښتمه ماده:**

(۱) د افسرانو او بریدملانو رخصتي د جلا کړنلارې مطابق داسې تنظیمېږي چې د ملي اردو د جګړه

آن مدت (۱۵) روز رخصتی بیشتر به آنها داده می شود.

(۲) افسران درمدت دوام خدمت وبریدملان دردوره های تجدید قرارداد صرف یکبار مستحق (۴۵) روز رخصتی با مزد برای ادای فریضهٔ حج یا زیارت اماکن متبرکه می باشند .

**انتقال رخصتی تفریحی**

**مادهٔسی ونهم:**

افسران وبریدملانی که بنابرضرورت مبرم وظیفوی ازرخصتی تفریحی سالانه استفاده کرده نتوانند، رخصتی آنهاصرف در صورتی به سال بعد انتقال میابد که قوماندان مافوق آن دلایل مؤجه را ارایه کرده بتواند.

**اعطای رخصتی**

**مادهٔ چهلم :**

